مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۶/۰۴/۲۹

# مــزل

راسره وو ځراغونه
ځو ملګري د مزله

ټوله شپه په لار روان وو
موږ منلي وه د زړه

سپوږمۍ سترګې، غرونه چوپ وو
ستوري پټ پټ ځلېده

یا کږه وږه وه لاره
یا روان و موږ کاږه

سرې لمبې مو وې ښنلې
پاځېدل وو او لوېده

سیوري ډېر تر موږه مخکې
وو روان کاږه واږه

لکه بې‌لاسو لستوڼي
زموږ له ولیو ځړېده



یا خو موږ تر سیورو لنډ وو
یا وو دوی تر موږ اوږده

هرڅه هرڅه ته مو پام وو
چې په لار به تېرېده

هرڅه هرڅه مو په یاد وو
که رڼا وه که تیاره

د مزله ستړیا مو زده وه
او په یاد مو وو ساړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

خو منزل ته مو پام نه و
رانه هېرو وو رسېده

له کوم ځایه وو راغلې؟
خدایزده چېرته مو وو تله؟

ستا د زلفو شمال راغی
بېرته باغ ته شو ستانه

د غنم زړه و، چاودلی
مار له ونې تاوېده

د باغ رګ کې و په منډه
د منې د بوی خواږه

د انګور اوبه وې تویې
ختین لوښی ګډېده

ستا د زلفو خوشبویي وه
نور نو هېڅ نه‌ښکارېده

ته وا، نه دلته راتله وو
نه له دې ځایه وو تله.

۱۴۰۵ ثور ۶ - شپه ، له پاریس څخه نانسي ته پرلاره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ